
OPEN SOCIETY
JUSTICE INITIATIVE

رواداری
RAWADARI

# د افغان ښځو او نجونو د حقونو لپاره د عدالت نړیوالې محکمې ته د یوې قضیې راوړل

د سپتمبر ۲۰۲۵



# يادونې

دا ليکنه د نتاشا ارنپريزټر، مانويلا لونډو، مارينا پينا، ژانيو کوين، او ډورو ياوان لخوا د جيمز ګولډسټون او عمر ورايچ د بياکتنې او ونډې سره ليکل شوې ده. ټاکل شوې پوښتنې او ځوابونه له افغان مدني ټولنې، بين المللي همکارانو او حقوقي کارپوهانو سره د مشورې او د بشر حقونو د سازمان رواداري د بنسټيزې همکارۍ له لارې رامنځته شوې دي، چې دا بنسټ د بشر حقونو يوه افغاني اداره او د عدالت د نړيوالې محکمې او د تبعيض د ټولو بڼو د له منځه وړلو کنوانسيون مهم همکار دی.

د دې قضيې په چمتو کولو کې اضافي مرستې (د پرانستې ټولنې د عدالت نوښت) او د پرانستې ټولنې د بنسټونو په همکارۍ تر سره شوې دي او د پورته اشخاصو په ګډون، قدرمنو بيټسي ايپل، ژانت بورسوس، جورجيانا ايپور، شهريار فضلي، سانا ګوس، مى - لين ليکومټ، سوفي لي، پيمان مجيدي، ډيانا رومينا پورتو ميشو، اشرکات محمد، او بيني لي هم همکاري کړې ده.

ټول نومونه په انګليسي نسخه کې د الفبا په ترتيب ليست شوي دي.

# لنډيز

په افغانستان کې د د بشر حقونو د وضعیت لپاره د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکوونکي او د ښځو او نجونو پر وړاندې د تبعیض اړوند د ملګرو ملتونو کاري ډله: «د نړۍ په بل هیڅ ځای کې د افغانستان په څیر د ښځو او نجونو پر حقونو باندې په پراخه کچه، سیستماتیک او ټولیز برید  نه دی شوی.» د طالبانو د ظالمانه کړنو د نړیوالې غندنې ور هاخوا، د افغان ښځو او نجونو د بشري حقونو د اعادې لپاره هیڅ قانوني اقدام نه دی تعقیب شوی. پرځای یې، طالبان په پرله پسې توګه خپل جبر لا سختوي.

د افغان میرمنو، د ملګرو ملتونو د ماموریت لرونکو، حقوقي کارپوهانو، مدني ټولنې او فعالانو پراخیدونکی ایتلاف له هېوادونو غوښتنه کوي چې د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته، ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو  کنوانسیون (CEDAW) څخه د سرغړونې په برخه کې د افغانستان پر ضد قضیه راوړي، چې افغانستان د دې کنوانسیون یو غړی هیواد دی. د ۲۰۲۴ کال په سپتمبر کې اسټرالیا، کاناډا، جرمني او ندرلینډ د احتساب د دې مسیر پر لور لومړني ګامونه پورته کړل، خو تر اوسه رسمي قضیه نه ده پرانستل شوې.

ICJ په زیاتیدونکي ډول د بشري حقونو د سختو سرغړونو لپاره د دولت د مسؤلیت په نښه کولو لپاره د حیاتي ځای او مرجع په توګه پیژندل کیږي. د غزې، اوکراین او میانمار په څیر شخړو کې د ICJ لخوا وروستۍ پریکړې، د نړیوالې ټولنې لپاره فرصت په ګوته کوي چې د طالبانو تر رژیم لاندې د افغان میرمنو او نجونو د سخت وضعیت اړوند دغه محکمه ښکېله کړي. په هرصورت، د ICJ څخه مخکې د احتمالي اقداماتو اړوند ناڅرګندتیا او ناسم پوهاوی شته.

د برخه اخستونکو د بېلابېلو ډلو د پوښتنو په ځواب کې، لاندې د ۲۱ ډېرو پوښتل شویو پوښتنو ټولګه ده، چې د ICJ پر وړاندې د افغان میرمنو او نجونو د حقونو په اړه د قضیې پیل کولو امکان او اغیزې په ګوته کوي. دا پوښتنې د نړیوالې جنایي محکمې ICC سره اړوند د عدالت نړیوالې محکمې ICJ رول، د احتمالي قضیې ګامونه، د طالبانو د مشروعیت او رسمیت پیژندلو اندیښنه، د افغان مدني ټولنې نقش، او احتمالي پایلې راسپړي. دا بیا بیا پوښتل شوې پوښتنې همدا راز په ګوته کوي چې څنګه د ICJ محاکمه کولی شي د ممکنه قانوني احکامو له لارې د افغانانو ملاتړ وکړي، د وکالت هڅې پیاوړې کړي، پر نړیوالو اړیکو اغیزه وکړي، او نورې عملي ګټې وړاندې کړي.

# مطالب


١ - د عدالت نړیواله محکمه ICJ څه ده؟

٢ - د ICJ او نړیوالې جنایي محکمې (ICC) ترمنځ توپیر څه دی؟

٣ - ولې افغانستان د ښځو او نجونو له حقونو څخه د سرغړونې له امله د ICJ پر وړاندې راوړل کیدای شي ؟

٤ - څوک کولی شي د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) پر وړاندې، ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) له مخې د افغانستان پر ضد قضیه راوړي؟

٥ - دقیقاً، څوک به محاکمه شي: د افغانستان دولت که طالبان؟

٦ - څوک به د عدالت د نړیوالې محکمې پر وړاندې د افغانستان استازولي کوي؟

٧ - ایا د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته د افغانستان قضیه راوړل طالبانو ته مشروعیت ورکوي یا به د دوی په رسمیت پیژندنې تمام شي؟

٨ - که د افغانستان پر ضد د عدالت د نړیوالې محکمې ICJ قضیه رسمیت پېژندنه نه غواړي یا په رسمیت پېژندنې نه تمامېږي، آیا طالبانو ته په مشروعیت ورکولو کې مرسته کولای شي؟

٩ - د افغانستان پر وړاندې د عدالت بین المللي محکمې (ICJ) کې د قضیې پیل کولو لپاره ګامونه څه دي؟

١٠ - د عدالت نړیوالې محکمې ته له قضیې راوړلو وړاندې باید دولتونه "خبرې اترې" وکړي، د دې څه معنا ده؟

١١ - د افغانستان پر وړاندې د ICJ حکم څه کیدلی شي؟

١٢ - قضیه به څومره وخت ونیسي؟

١٣ - ایا د افغانستان پر وړاندې د یوې قضیې درج کول به سمدستي اغیزه ولري؟

١٤ - ایا د قانوني پلوه د ICJ امر قانون د اجرا وړ دی؟

١٥ - که چیرې افغانستان د ICJ له پریکړې سره سم عمل ونه کړي څه به پېښ شي؟

١٦ - د ICJ قضیه له افغان میرمنو سره څرنګه مرسته کولی شي، په ځانګړې توګه که چیرې په مستقیم ډول پریکړه پلې نه کړای شي؟

١٧ - د عدالت بین المللي محکمه (ICJ) کې د قضیې خطرات څه دي؟

١٨ - آیا طالبان ښځو سره د تبعیض د ټولو ټولو د له منځه وړلو کنوانسیون CEDAW څخه افغانستان ویستلی شي؟

١٩ - د ICJ قضیه څنګه د احتساب او عدالت پر نورو میکانیزمونو اغیزه کولی شي؟

٢٠ - د عدالت د نړیوالې محکمې ICJ قضیه څنګه کولی شي د «جنسیتي اپارتاید» د سیستماتیک کوډ کولو هڅې پیاوړې کړي؟

٢١ - ولې ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي بین المللي کنوانسیون CEDAW د کمېټې پر ځای ICJ محکمې ته د یاد کمیسیون لاندې یوه قضیه راوړئ؟

٢٢ - ایا  د بشر حقونو د نورو تړونونو له مخې چې افغانستان تر ښو لاندې کړي دي، ICJ محکمې ته قضیه راوړل ممکن دي؟

٢٣ - ولې د نورو لارو پر ځای د ICJ په قضیه کې سرچینې وکارول شي؟

٢٤ - ایا، یا باید، افغان مدني ټولنه د افغانستان پر وړاندې د ICJ په قضیه کې رول ولوبوي؟


٢٥ - ایا افغان وګړي محکمې ته شواهد وړاندې کولی شي؟

٢٦ - دا څه مانا لري چې استرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ د افغانستان پر وړاندې د CEDAW له مخې د شخړې پروسه پیل کړې؟

٢٧ - ایا نور هیوادونه کولی شي د افغانستان په وړاندې د CEDAW په شخړه کې اسټرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ سره یوځای شي؟

٢٨ - ایا هغه هیوادونه چې د CEDAW غړي نه دي یا د ICJ قضاوت یې نه دی منلی د قضیې ملاتړ کولی شي؟

٢٩ - په وړاندیز شوې قضیه کې د پرانستې ټولنې OPEN SOCIETY رول څه دی؟




## ۱ - د عدالت نړیواله محکمه ICJ څه ده؟

### د ملګرو ملتونو (UN) اصلي قضايي ارګان

د عدالت نړیواله محکمه (ICJ، یا "محکمه»)، چې اکثرا د نړیوالې محکمې په نوم یادیږي، د ملګرو ملتونو اصلي قضايي اداره ده. د هالنډ، په لاهه کې موقعیت لري، او اصلي فعالیت یې له نړیوال قانون سره سم د هیوادونو ترمنځ قانوني شخړې حل کول دي. هیوادونه کولی شي ICJ محکمې ته خپلې شخړې وسپاري، چې محکمه بیا د الزامي پریکړې صادرولو څخه وړاندې شخړه له حقایقو او اړوندو قوانینو سره ګوري. سربیره پر دې، محکمه د هغو قانوني پوښتنو («مشورتي نظرونو») اړوند نظرونه وړاندې کوي چې د ملګرو ملتونو د مجازی ادارو او تخصصي ادارو لخوا رامنځته شوې دي (د بیلګې په توګه، د روغتیا نړیوال سازمان، د کار نړیوال سازمان).

ICJ محکمه د مختلفو هیوادونو څخه له ۱۵ قاضیانو جوړه ده، کوم چې د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه مختلف قانوني دودونه منعکسوي، او د نړیوال قانون اړوند د هراړخیز لیدلوري په ډاډمنولو کې مرسته کوي. د محکمې پروسې په عامه توګه او په ژوندۍ بڼه خپریږي، او روښتیا او لاسرسي ته وده ورکوي.




## ۲ - د ICJ او نړیوالې جنايي محکمې (ICC) ترمنځ توپیر څه دی؟

### ICJ او ICC مختلف واکونه لري

ICJ باید له ICC سره یو شان ونه ګڼل شي. په داسې حال کې چې دواړه محکمې په هاګ کې موقعیت لري، دوی خورا مختلف اهداف لري. ICC یوازې د اشخاصو د قضاوت واک لري چې د نسل وژنې، د بشریت پر ضد جرمونو، او جنګي جرمونو په تور تورن وي؛ او قضیې د نړیوالې جنايي محکمې د څارنوال لخوا پیلیږي، څوک چې دا اختیار لري چې څوک او کومې قضیې تعقیب کړي.

له بلې خوا، ICJ جرمي محکمه نه ده، بلکې هغه محکمه ده چې د هیوادونوترمنځ قضیو ته رسیدګي کوي. په دې کې ډیرى وختونه د دې په اړه قضیې شاملې دي چې کوم هیواد د قلمرو ملکیت لري، د پولې حدود یې کوم دي، او کوم نړیوال تړونونه د اجرا وړ دي. ICJ پر څارنوال تکیه نه کوي چې قضیه پیل کړي، پرځای یې هیوادونه د اقداماتو نوښت پخپله کوي. یوځل چې یو هیواد د بل هیواد پروړاندې په ICJ کې قضیه ثبت کړي، محکمه مکلف ده چې قضیه واوري او وګوري چې د محکمې د واک په ساحه کې ده.





## ۳ - ولې افغانستان د ښځو او نجونو له حقونو څخه د سرغړونې له امله د ICJ پر وړاندې راوړل کیدای شي ؟

### نړیوالو قانوني مکلفیتونو څخه سرغړونه

افغانستان د هغو نړیوالو قوانینو پابند دی چې د ښځو او نجونو حقونه خوندي کوي. یو کلیدي تړون ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) دی، چې افغانستان یې په ۲۰۰۳ کال کې غړی شو. ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون ته ژمنتیا افغانستان مکلف ګرځولی چې د ښځو او نجونو لپاره مساوي حقونه او قانوني خوندیتوب ډاډمن کړي.

د دې کنوانسیون ۲۹مه ماده د کنوانسیون په تفسیر یا غوښتنلیک پورې اړوندو شخړو ته اجازه ورکوي چې د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته راجع شي، خو یوازې هغه مهال چې ښکېلو هیوادونو یې په څرګند ډول قضایي واک منلی وي. د افغانستان له خوا ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون منل د یاد کنوانسیون د ۲۹مې مادې منل هم رانغاړي، چې د ورته شخړو اړوند د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته قضایي صلاحیت ورکوي. د کلونو په اوږدو کې افغانستان ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون لاندې له خپلو ډېرو مکلفیتونو څخه سرغړونه کړې او د دې لپاره یې زمینه برابره کړې چې دا هیواد د عدالت نړیوالې محکې ته راوړل شي او دې سرغړونو ته ځواب وویل شي.



## ۴ - څوک کولی شي د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) پر وړاندي، ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) له مخې د افغانستان پر ضد قضیه راوړي؟

**یوازې یو بل هیواد (نه افراد یا سازمانونه) کولی شي د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته د افغانستان پر ضد قضیه وړاندي کړي.**

یوازې هیوادونه کولی شي ICJ ته قضیې وړاندي کړي؛ افراد او سازمانونه نشي کولی. ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون څخه د سرغړونو اړوند د افغانستان پر ضد د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته د قضیې راوړلو لپاره یو هیواد (یا یو ډله هیوادونه) باید دوه اړتیاوې پوره کړي: ۱) دوی باید ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) تصویب کړی وي؛ او ۲) د (CEDAW) اړوند د دې کنوانسیون د ۲۹مې مادې له مخې یې د قضیې اوریدلو لپاره د محکمې قضایي واک منلی وي.

کله چې هیوادونه ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو بین المللي کنوانسیون په څېر تړون کې ګډون کوي، دوی یوازې د مقرراتو له تعقیبولو سره خپل موافق نه دی کړی، بلکې دوی هر بل هیواد چې د یاد تړون غړیتوب لري هم حساب کولو ته اړیستلی شي (کله چې هیوادونه د CEDAW په څیر یو تړون سره یوځای کیږي، دوی نه یوازې د دې قواعدو سره موافق او اطاعت کوي، بلکې په غړو هیوادونو باندې هم حساب کوي چې برخه واخلي او ورته عمل وکړي.)، چې د کنوانسیون مقررات تعقیب کړي. دا ډله ییزه تمه او توقع د دې ټولو هیوادونو تر منځ د حقونو او مسؤلیتونو یوه نړیواله شبکه رامنځته کوي، چې په ګډ کار سره د ښځو پر وړاندې تبعیض له منځه یوسي. که چیرې یو هیواد په دې باور وي چې افغانستان ښځو سره د تبعیض د ټولو

ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) لاندې پر خپلو ژمنو عمل نه کوي، دا حق لري چې د عدالت په نړیواله محکمه (ICJ) کې افغانستان وننګوي.


د ۱۸۹ هیوادونو ترمنځ چې ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CEDAW) برخه دي، ۱۵۰هیوادونو (د افغانستان په ګډون) موافقه کړې چې د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته اجازه ورکړي چې د یاد کنوانسیون لاندې شاملېدونکې قضیې واوري. دا په دې معنا ده چې له ۱۴۹هیوادونو څخه هر یو کولی شي د کنوانسیون له مکلفیتونو څخه د سرغړونې له امله د افغانستان پر وړاندې قضیه ثبت کړي.




## ۵ - دقيقاً، څوک به محاکمه شي: د افغانستان دولت که طالبان؟

### د افغانستان دولت

ځکه چې د عدالت د نړیوالې محکمې (ICJ) مخې ته د قضيې ايښودل بايد د هيوادونو تر منځ وي - نه حکومتونه يا غير دولتي ادارې لکه طالبان- وړانديز شوې قضيه به د افغانستان د دولت پر ضد وي، نه په مستقيم ډول د طالبانو پر ضد. په هرصورت، دا چې طالبان دا مهال د افغانستان د بالفعل واکمنو په توګه فعاليت کوي، د افغانستان پر ضد قضيه به په لويه کې طالبان د خپلو کړنو مسؤل وګرځوي. دا حقيقت چې د طالبانو حکومت په رسميت نه دی پيژندل شوی په دې قضيې پورې اړه نه لري- ځکه د نړيوال قانون له مخې، هر څوک چې د هيواد واک يې په لاس کې وي بايد ښځو سره د تبعيض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسيون په ګډون د نړيوالو معاهدو لاندې د افغانستان ټول مسئوليتونه وساتي.




# ۶ - څوک به د عدالت د نړیوالې محکمې پر وړاندې د افغانستان استازولي کوي؟

### په ډېر احتمال سره به طالبان، د افغانستان د بالفعل واکمنو په توګه استازولي کوي


د رسمیت نه پېژندلو سره سره، د افغانستان پر قلمرو او وګړو د طالبانو ”اغېزناک کنټرول“ هغوی د افغانستان د بالفعل واکمنو په توګه پیژندلي دي. په دې ترتیب، د بین المللي قانون له مخې د طالبانو اعمال افغانستان ته منسوبېدلی شي، او د هغوی چلند د هیواد د عمل په توګه ګڼل کېدای شي (په بین المللي کچه د ناسمو افعالو له امله د هیواد د مسئولیتونو اړوند د مادو مصوده، ۴مه ماده؛ د ۹مې مادې ۴ تبصره: ”د دوی د غړو د اعمالو له مسئولیت څخه“ په رسمیت نه پېژندل طالبانو ته ”برائت “ نه ورکوي. (۱۰مه ماده). پر همدې بنسټ، د طالبانو د رسمیت نه پېژندل شوي حالت ته له پاملرنې پرته، دوی بیا هم مناسب لوبغاړي دي چې د عدالت د نړیوالې محکمې ICJ پر وړاندې به دریږي او د ښځو د حقونو د سرغړونو په برخه کې ځواب ویونکي دي چې په هیواد کې پیښیږي.

ICJ د ورته شرایطو بېلګه لري. د نسل وژنې کنوانسیون لاندې د ګامبیا پر وړاندې د میانمار په قضیه کې، محکمې د رسمیت نه پیژندنې سره سره د دولت پر قلمرو د اغېزناک کنټرول له امله د میانمار بالفعل حکومت، نظامي واکمنو ته اجازه ورکړه، چې د دې هیواد استازیتوب وکړي.

د رسمي قانوني استازیتوب په شرایطو کې، معمولاً داخلي دولتي وکیلان (لکه د عدالیې وزارت یا د بهرنیو چارو وزارت) د عدالت د نړیوالې محکمې ICJ پر وړاندې د هیوادونو استازیتوب کوي. هیوادونه د خپلو قانوني ډلو

لپاره ځانګړي بهرني حقوقي بنسټونه او نړیوال حقوقي متخصصین هم استخداموي. دا مهال، دا څرګنده نه ده چې څوک به په قانوني توګه د طالبانو استازیتوب وکړي یا ایا دوی به بهرنۍ مشورې ته مخه کړي؟

که طالبان په قضیه کې د ګډون نه کولو پریکړه وکړي، ICJ کولی شي د دوی په غیر حاضرۍ کې د قضیې اوریدلو ته دوام ورکړي. دا په نورو قضیو کې هم پیښ شوي دي، د سوریې پر وړاندې د شکنجې ضد کمیسیون (CAT) د قضیې په ګډون، چیرې چې د سوریې په نمایندګۍ هیڅ استازی نه دی څرګند شوی. د افغانستان لخوا په قضیه کې د راڅرګندېدو نشتوالی به د محکمې طرزالعمل بدل نه کړي - غوښتنه کوونکي هیوادونه به لاهم کولی شي د دوی قضیه بشپړه او د ادعا شویو سرغړونو بشپړه ساحه وړاندې کړي. په ورته ډول، ICJ به لاهم په بشپړ ډول واک ولري چې د افغانستان پر وړاندې الزامي قضاوت وړاندې کړي.




## ۷ - ایا د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته د افغانستان قضیه راوړل طالبانو ته مشروعیت ورکوي یا به د دوی په رسمیت پیژندنې تمام شي؟

### د افغانستان پر خلاف د عدالت نړیوالې محکمې (ICJ) ته قضیه وړل طالبانو ته مشروعیت نه ورکوي او نه هم د طالبانو په رسمیت پیژندنې تمامیږي

له بشر حقونو څخه د سرغړونو له امله د افغانستان پر وړاندې د عدالت په بین المللي محکمه (ICJ) کې د یوې قضیې درج کول په دې معنا نه دي چې طالبان د هیواد د حکومت په توګه وپیژندل شي. د عدالت بین المللي محکمې (ICJ) تر دې مخکې د مشروعیت ورکولو یا رسمیت پیژندلو له پایلې درلودو پرته داسې قضیې هوارې کړې دي چې په رسمیت نه پیژندل شوي حکومتونه لري. د بېلګې په توګه، متحده ایالاتو په ۱۹۸۰ کال کې د انقلابي حکومت له رسمیت پیژندلو پرته د ایران پر خلاف قضیه درج کړه؛ او د میانمار پروړاندې د ګامبیا قضیه د ۲۰۲۱ کال له نظامي کودتا سره دوام لري، چې دا کودتا د اوس مهال د په رسمیت پېژندل شوي حکومت له خوا شوې. د یادونې وړ ده، چې د میانمار په قضیه کې، محکمې روښانه کړه چې په اقداماتو کې یې هیوادونه شامل دي، نه حکومتونه، دا دا معنا چې د قضیې راوړل د هغه هیواد د حکومت د رسمیت پیژندنې مترادف نه دی.

سربیره پردې، د عدالت بین المللي محکمې (ICJ) یوه قضیه چې د افغانستان د ښځو او نجونو له حقونو څخه سرغړونه په ګوته کوي، کولی شي د طالبانو د پیژندنې د هڅو خنډ وګرځي. د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته یو وروستی راپور، د ۲۷۷۹ (۲۰۲۳) پریکړه لیک سره سم، دې پایلې ته ورسید چې رسمیت پیژندنه باید ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي بین المللي کنوانسیون CEDAW په ګډون د افغانستان نړیوالو مکلفیتونو ته د طالبانو

اطاعت پورې ترلې وي، لکه څنګه چې د کنوانسیون په پالیسیو، قوانینو او کړنو کې منعکس شوي. ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي کنوانسیون (ICJ) یو حکم چې له مکلفیتونو څخه د افغانستان سرغړونه تاییدوي د طالبانو په مشرۍ د حکومت د رسمیت پیژندلو پر وړاندې به د قانوني او باصلاحیته خنډ په توګه کار ورکړي.

له عملي لیدلوري او د دې لپاره چې ډاډ ترلاسه شي چې طالبان د ICJ د پروسې په اوږدو کې په رسمیت نه دي پیژندل شوي، غوښتونکي هیوادونه کولی شي او باید هم په دوامداره توګه د رسمیت په نه پېژندلو ټینګار وکړي. په ځانګړې توګه، هیوادونه کولی شي د محکمې پر وړاندې په خپلو ټولو وړاندیزونو او شفاهي دلیلونو کې په واضح ډول ووایي چې دوی طالبان د افغانستان د حکومت په توګه نه مني او یا یې په رسمیت نه پیژني. پرځای یې، دوی د حقونو د سرغړونو لپاره د حساب کتاب په لټه کې دي چې باید د رسمیت پیژندلو لپاره د لارې جوړېدو مانع وګرځي.




## ۸ - که د افغانستان پر ضد د عدالت د نړیوالې محکمې ICJ قضیه رسمیت پېژندنه نه غواړي یا په رسمیت پېژندنې نه تمامیږي، نو آیا طالبانو ته په مشروعیت ورکولو کې مرسته کولای شي؟

**د ICJ قضیه به د طالبانو د چلند په اړه په نړیواله کچه غندنه روښانه کړي، او په نړیوال سیستم کې د لوبغاړو په توګه به د دوی د مشروعیت نشتوالی په ګوته کړي.**

ICJ تر دې وړاندې داسې قضیې هوارې کړې دي چې ستونزه زیږوونکي حکومتونه پکې شامل دي، پرته له دې چې دوی ته مشروعیت ورکړي. د بیلګې په توګه، د یو پلټ فارم په توګه د ICJ په کارولو سره په ۱۹۶۰کې ایتوپیا او لیبریا د اپارتاید سویلي افریقا پر وړاندې د پام وړ قضیې راوړې دي، چې په نړیواله کچه د واکمن حکومت د رسمیت پېژندنې مخه ونیسي. دې قضیو په پراخو نړیوالو هڅو کې مرسته وکړه چې بالاخره دغه هڅې د دوی د اپارتاید پالیسیو له امله د ملګرو ملتونو له عمومي اسمبلۍ څخه د سویلي افریقا د تعلیق لامل شوې. په ورته ډول، ICJ ته د قضیې راوړل به طالبانو ته مشروعیت ورنکړي. د دې پر ځای به دا د دوی د بشري حقونو جدي سرغړونې روښانه کړي - چې د نړیوال قانون د جدي نقض سرغړونې دي- او د د نړیوالو مدافعینو دریځ به پیاوړی کړي.

محاکمې ته د طالبانو د کړنو راوړل کولی شي د قانوني لوبغاړو په توګه د دوی د راښکاره کیدو لپاره د پام وړ هڅو مخه ونیسي، د مشروع حکومت په توګه پېژندل خو لرې خبره ده. د ICJ یو حکم د CEDAW په څیر له نړیوالو معیارونو څخه د طالبانو سرغړونې تاییدوي، او کولی شي هر هیواد ته له دوی سره په اړیکو عادي کولو کې د یو ځواکمن مخنیوي کوونکي په توګه کار ورکړي.




## ۹ - د افغانستان پر وړاندې د عدالت بين المللي محکمې (ICJ) کې د قضيې پيل کولو لپاره ګامونه څه دي؟

**هغه خبرتيا چې تر هغې وروسته د خبرو اترو او منځګړيتوب هڅې وشي**

ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوی کنوانسيون CEDAW څخه د سرغړونې له امله د افغانستان پر وړاندې (ICJ) ته د قضيې راوړلو پروسه څو ګامونه لري؛ د پيل کولو لپاره:

۱ - هيواد يا هيوادونه، بايد افغانستان ته خپل باور ووايي چې په هغې سره يې ښځو سره د تاوتريخوالي د مخنيوي کنوانسيون څخه سرغړونه کړې. دا د يو ديپلوماتيک ياداښت له لارې ترسره کيږي، چې د يو هيواد ديپلوماتيک ماموريت، وزارت يا بل ديپلوماتيک چينل ته سپارل کيږي.

۲ - افغانستان به ځواب ورکړي يا به غلی پاتې شي. که افغانستان مخالف وي يا غلی پاتې شي، دا به د هيوادونو ترمنځ "شخړه" رامنځته کړي. دا هيوادونه بايد بيا "خبرې اترې" وکړي، دا دا معنا لري چې د دې شخړې د حل کولو لپاره دواړه "ريښتينې هڅه" وکړي. د خبرو اترو لپاره کوم مشخص مهال ويش نه دی ټاکل شوی، کوم چې کيدای شي څو مياشتې يا د پام وړ اوږدې مودې پورې وي وخت واخلي، دا په دې پورې اړه لري چې هيوادونه څنګه مخکې ځي.

۳ - که چيرې "خبرې اترې" ناکامې شي، نو له هيوادونو تمه کيږي چې منځګړيتوب "تنظيم" کړي. منځګړيتوب

له محکمې څخه بهر د شخړو حل کولو جلا پروسه ده، خو دا طریقه هم د الزام او په قانوني توګه د پلي کیدو وړ قضاوت رامنځته کوي. که چیرې په شپږو میاشتو کې په مشخصاتو لکه ځای یا د منځګړتوب پر انتخاب موافقې ته و نه رسیږي، یا که افغانستان دغه هڅې له نظره وغورځوي چې منځګړتوب ته په دې موده کې زمینه برابره کړي، نو بیا قضیه د عدالت نړیوالې محکمې ICJ ته وړل کیږي.




## ۱۰ - د عدالت نړیوالې محکمې ته له قضیې راوړلو ړاندې باید دولتونه "خبرې اترې" وکړي، د دې څه معنا ده؟

**د طالبانو تر کنټرول لاندې د نورو خبرو اترو برعکس، د CEDAW لاندې «خبرې اترې» به یوازې د ښځو د حقونو په حلولو تمرکز وکړي.**


کله چې هیوادونه اړ وي چې ICJ ته د قضیې د راوړلو تر مخه «خبرې اترې» وکړي، دوی باید محکمې ته له تلو مخکې د شخړې د هواري لپاره «ریښتینې هڅه» وکړي. دا اړتیا په دې ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته کوي چې د ICJ محدودې سرچینې د هغو شخړو لپاره دي چې د خبرو اترو له لارې نشي حل کیدای، او دا څرګندوي چې مساله دومره جدي ده چې د محکمې مداخله پکې اړینه ده.

د ICJ د قانون له مخې، یو هیواد باید د حقیقي هڅو شواهد وړاندې کړي چې بیا د اختلاف په هوارولو کې بل اړخ ښکیل شي. نظري هڅه کافي نه ده؛ باید داسې ثبوت وي چې خبرې اترې ناکامه شوې دي، بې اغېزې دي یا له کړکېچ سره مخامخ شوې دي. سربیره پر دې، خبرې اترې باید په مستقیم ډول په دې قضیه کې د شخړې موضوع ته رسیدګي وکړي، او په افغانستان کې د ښځو د حقونو اړوند د CEDAW مکلفیتونه حل کړي. د پراخو خبرو اترو بر عکس، لکه «د متحده ایالاتو - طالبانو د سولې تړون» یا د ملګرو ملتونو په مشرۍ د دوحې غونډې - چیرې چې طالبانو د ښځو پر نه ګډون ټینګار کاوه او د CEDAW لاندې د کنټرول شویو خبرو اترو له اجنډا څخه یې د بشري حقونو اړوندو موضوعاتو مطرح کېدو څخه ډډه کوله، دغه خبرې اترې به د CEDAW کنوانسیون لاندې په ځانګړي ډول د ښځو د حقونو په ببرته احیا کولو متمرکزې وي. د شخړې پیل کوونکي هیوادونو څخه تمه کیږي چې د CEDAW کنوانسیون لاندې د سرغړونو د هواري غوښتنه وکړي او پر میرمنو

لګول شوي محدودیتونه لرې شي.

طالبان کولی شي انتخاب وکړي چې په دې خبرو اترو کې برخه واخلي که نه. که چیرې طالبان له برخې اخیستو څخه انکار وکړي، غوښتونکي هیوادونه لاهم کولی شي په «ښه باور» کې له عمل کولو سره د خبرو اترو اړتیا پوره کړي، په دې معنی چې دوی باید د شخړې حل کولو لپاره ریښتینې هڅې وکړي. په داسې حالت کې، پروسه کیدای شي د راتلونکې کړنلارې مرحلې ته داخله شي (منځګړیتوب تنظیم کړي).


په منطقي ډول، په خبرو اترو کې کیدای شي د سفارتي لیکونو تبادله شامله شي، چې شخړه ترسیم کړي او د ځوابونو په لټه کې وي، په احتمالي توګه دا تبادلې له مخامخ ملاقاتونو سره زیاتیږي. ICJ دا منلې چې دا اړتیا یوازې د لیکونو د تبادلې له لارې یا په یوې یا دوو غونډو سره پوره کیدای شي. که چیرې وضعیتونه بدلون و نه مومي او خبرې اترې په واضح ډول ونشي کولی شخړه حل کړي، نو ICJ به احتمالا ووایي چې د CEDAW لاندې د خبرو اترو شرطونه پوره شوي دي.



## ۱۱ - د افغانستان پر وړاندې د ICJ حکم څه کیدلی شي؟

### ICJ محکمه کولی شي د تړون د سرغړونو پر بنسټ امرونه صادر کړي

لکه څنګه چې ICJ یوه جنايي محکمه نه ده، حکمونه یې باید د افغانستان لپاره په دې تمرکز وکړي چې دا هیواد د ښځو او نجونو له حقونو څخه د سرغړونې د مخنیوي لپاره اقدامات وکړي. او/یا د تیرو سرغړونو د حل لپاره ICJ محکمه د خپلو احکامو لپاره په پراخه کچه اختیارونه لري: د یوې رسمي اعلامیې په ګډون، چې افغانستان د CEDAW یا ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي بین المللي کنوانسیون لاندې خپل مسؤلیتونه نقض کړي دي. همدا راز، ځانګړې سرغړونې په ګوته شي، لکه ښځې له کار او په آزاده توګه له تګ راتګ څخه منعه کول؛ اعلامیه به د افغانستان لپاره یو حکم صادر کړي چې ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي بین المللي کنوانسیون لاندې خپل مکلفیتونه ترسره کړي، لکه حکومت ته د دې لارښوونه کول چې د تعلیم، د تګ راتګ آزادۍ، روغتیایي خدماتو او نورو عامه خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې تبعیضي پالیسي او فعالیتونه له منځه یوسي؛ یو حکم چې افغانستان د دې تضمینونه او ضمانتونه رامنځته کړي چې ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي د نړیوال کنوانسیون نقض پای ته ورسوي او دا دې ته اړتیا لري چې دا هیواد هغه تبعیضي قوانین او پالیسیانې لغوه کړي، او د راتلونکو سرغړونو د مخنیوي لپاره اقدامات ترسره کړي؛ یو حکم چې افغانستان ته د دې لارښوونه کوي چې د شواهدو د له منځه وړلو مخنیوی ونکړي او ساتنه یې ډاډمنه کړي، لکه د اسنادو نه ویجاړول یا له څېړنو سره همکاري کول.



## ۱۲ - قضیه به څومره وخت ونیسي؟

**که څه هم یوه قضیه د حل کولو لپاره کلونه وخت نیسي، خو ICJ محکمه کولی شي څو اونیو کي لنډمهاله الزامي احکام صادر کړي**

د ICJ د قضیو اوږدوالی توپیر لري او په ځینو مواردو کې د حل لپاره کلونه وخت نیسي. د بیلګې په توګه، د بوسنیا او هیرزګوینا د سربیا او مانټینیګرو تر منځ د نسل وژنې کنوانسیون لاندې قضیې تقریبا ۱۵ کاله وخت ونیو. په هرصورت، کله چې فوري اقدامات اړین وي، ICJ محکمه کولی شي په چټکۍ سره عمل وکړي او لنډمهاله الزامي پریکړې، او په اونیو کې د «لنډمهالو اقداماتو» غوښتنه وکړي. دا «موقتي تدابیر» د محکمې لخوا بیړني حکمونه دي چې موخه یې د وروستي قضاوت تر مخه د سمدستي پېښ زیان مخنیوی او په خطر کې حقونو ساتنه ده. د افغانستان پر وړاندې په یوه قضیه کې، دا ډول اقدامات کېدای شي دا ډول حکمونه راونغاړي، لکه، تعلیم او روغتیایي خدماتو ته د لاسرسي اړوند تبعیضي محدودیتونه له منځه یوسي، د ښځو پروړاندې ناوړه چلند ودروي، او د قضیې اړوند د حیاتي معلوماتو له ویجاړولو ډډه وکړي.

لنډمهال تدابیر د غوښتنه کوونکي هیواد لخوا هغه مهال غوښتل کیدای شي کله چې قضیه ثبت شي او محکمه ژر تر ژره امر کولی شي. په وروستیو قضیو کې، موقتي تدابیر د قضیې له ثبت کیدو وروسته په ورځو یا اونیو کې صادر شوي. د بیلګې په توګه، په هغه قضیه کې چې د اوکراین لخوا د روسیې پر وړاندې راوړل شوې، محکمې ۱۸ ورځې وروسته لنډمهال اقدامات خپاره کړل، او په یوه دوسیه کې چې سویلي افریقا د اسراییل پر وړاندې رامنځته کړې، لنډمهال اقدامات په ۲۸ ورځو کې صادر شول.



## ۱۳ - ایا د افغانستان پر وړاندې د یوې قضیې درج کول به سمدستي اغیزه ولري؟

**ICJ قضیه کولی شي سمدستي قانوني، ډیپلوماټیکې او سیاسي اغیزې ولري.**

په ICJ کې د افغانستان پر وړاندې د یوې قضیې درج کول کولی شي د پام وړ سمدستي اغیزه وکړي، حتی مخکې له دې چې وروستی پریکړه وشي. دا اغیزه کولی شي ډیپلوماټیکې، حقوقي او سیاسي ساحې پراخه کړي.

د قضیې د ثبتولو عمل پخپله طالبانو ته یو روښانه پیغام استوي چې نړیواله ټولنه د بشر حقونو جدي سرغړونې چې هره ورځ افغان ښځې او نجونې ورسره مخ کیږي غندي - او ژمنتیا لري چې د ټولو شته قانوني لارو څخه کار واخلي او طالبان ونګوي -. دا قانوني چلند د غندنې د عمومي اعلامیو ور هاخوا اقدام کوي او د بدلون لپاره غوښتنه کوي، چې د قانوني الزامي پروسې لامل کیږي او سرعت، کشش او قدرت زیاتوي، چې یوازې اعلامیې دا موخه نشي ترلاسه کولی. دا د ژورنالیستانو، د حقونو مدافعینو، بشري سازمانونو، نورو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو لخوا د لا نورې څارنې او وکالت لپاره قانوني بنسټ رامنځته کوي. لکه څنګه چې د اسرائیل پر ضد د سویلي افریقا ثبت شوې قضیه کې وینو، د ICJ قضیه نورو هیوادونو ته هم د جدي خبرداري په توګه عمل کولی شي، چې نړیوال قانون څخه د سرغړونو په مخنیوي کې مرسته کوي.

د ICJ قضیه هم د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په ګډون په نړیوالو ارګانونو کې قوي پاملرنه رامنځته کوي، چې کولی شي پر طالبانو د فشار د زیاتوالي لامل شي. سربیره پر دې، که ICJ د موقتي اقداماتو امر وکړي، د ملګرو

ملتونو امنیت شورا ته باید خبر ورکړل شي، او په دې توګه د شورا تمرکز پر افغانستان او په ځانګړي ډول د ښځو پر حقونو باندې زیات کړي. د امنیت شورا دا واک لري چې د رسمي میکانیزم له لارې لنډمهال اقدامات پلي کړي.

په پای کې، لکه څنګه چې مخکې یادونه وشوه، دا قضیه کولی شي د احتمالي نړیوالې رسمیت پېژندنې او مشروعیت لپاره، چې طالبان یې غواړي، سخت شرایط رامنځته کړي او و یې ځنډوي.



## ۱۴ - ایا د ICJ امر د قانوني پلوه د اجرا وړ دی؟

**د ICJ حکمونه لازم الاجرا دي، او افغانستان باید د محکمې حکمونه ومني.**

د ملګرو ملتونو د منشور له مخې، افغانستان په قانوني توګه مکلف دی چې د ICJ له پریکړو سره سم عمل وکړي. په دې کې د لنډمهاله اقداماتو حکمونه شامل دي (۱۳ پوښتنه وګورئ). د افغانستان له خوا د ICJ د حکمونو د نه رعایتولو په صورت کې، غوښتنه کوونکي هیوادونه کولی شي د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته مخه کړي، چې د محکمې د حکمونو د پلي کولو ځواک لري.

سربیره پر دې، د ICJ حکمونه او قضاوتونه په خپله ارزښت لري: کولی شي د خبرو اترو په شرایطو کې مرسته وکړي او د ملګرو ملتونو د نورو میکانیزمونو لخوا وکارول شي، پرته له دې چې طالبان سمدلاسه له حکم سره سم عمل کوي (۱۵ پوښتنه وګورئ).



## ۱۵ - که چیرې افغانستان د ICJ له پریکړې سره سم عمل ونه کړي څه به پېښ شي؟

**پلي کول د اطاعت پر میکانیزمونو او نړیوال فشار پورې تړلي دي.**

په داسې حال کې چې طالبان ممکنه نه ده چې سمدلاسه د افغانستان د سرغړونو اړوند له پریکړې سره سم عمل وکړي، د پلي کولو لپاره نور انتخابونه به په نظر کې وي. ICJ د پلي کولو مستقیم میکانیزمونه نلري، لکه څنګه چې ICC خپل پولیس ځواک نلري. په هرصورت، د ICJ د حکمونو د نه اطاعت په صورت کې، د ملګرو ملتونو منشور ډېری اختیارونه په ګوته کوي او د ملګرو ملتونو عمومي مجلس، سر منشي، او امنیت شورا په څېر اداري پکې دخیلوي. د بیلګې په توګه، ۹۴مه ماده، د امنیت شورا ته ځواک ورکوي چې د نړیوالو قوانینو د اطاعت ډاډمنو لپاره اقدامات وکړي، له تحریمولو او سفري بندیزونو نیولې د تحقیقاتو کمیسیونونو رامنځته کولو او عمومي اسمبلۍ ته د نورو اقداماتو وړاندیزولو پورې، لکه د هیواد د ملګرو ملتونو امتیازات ځنډول. حتی د داسې کړنو ګواښ کولی شي طالبان اړباسي چې خپل ظالمانه فرمانونه پرېږدي، یا لږترلږه د نویو فرمانونو څخه راوګرځي. په پریکنده اقدام کولو کې د امنیت شورا وړتیا ځینې وختونه د شورا د دایمي غړو د ویټو کولو له امله محدودیدی شي، مګر له ښځو او نجونو سره د چلند اړوند په افغانستان باندې د نړیوالې اجماع په پام کې نیولو سره، ممکن دا اندېښنه لږ وي.

ویلی شو، حتی که یوه پریکړه په مستقیم ډول د طالبانو چلند بدل نه کړي، خو اغیزه یې د محکمې له حکم څخه هاخوا غځېدلی شي. د نه اطاعت په قضیو کې، قدرت کیدلای شي د نړیوال فشار او د نفوذ د نورو ډولونو په بڼه اعمال شي.



## ۱۶ - د ICJ قضیه له افغان میرمنو سره څنګه مرسته کولی شي، په ځانګړې توګه که چیرې په مستقیم ډول پریکړه پلې نه کړای شي؟

**د نړیوال وکالت له لارې له افغان میرمنو سره د مرستې لپاره د پام وړ فرصتونه شته.**

لکه څنګه چې وویل شو، په داسې حال کې چې په مستقیمه توګه پلي کول محدود دي، د محکمې پریکړې وزن لري او کولی شي د افغان میرمنو او نجونو لپاره په وضعیت کې د پام وړ بدلون رامنځته کړي، حتی که دا یوازې په تدریجي ډول هم وي. د بیلګې په توګه:

۱ - په ICJ محکمه کې د افغانستان پر وړاندې د یوې قضیې درج کول به د افغان میرمنو او نجونو ستونزې ته ښېرته پیاوړې نړیواله پاملرنه تازه کړي. دا کولی شي د وکالت هڅې پیاوړې کړي، نوی نړیوال ملاتړ متحرک کړي، او د افغانانو د غړونو لپاره یو بنسټ چمتو کړي. لکه څنګه چې په نورو قضیو کې لیدل شوي، دا ډول روښانتیا کولی شي د ظالمانه پالیسیو بیرته راګرځولو یا اسانه کولو لپاره سیاسي فشار ته وده ورکړي. سربیره پردې، په ICJ کې د پروسې جامع ماهیت، چې کولی شي کلونه ونیسي، ډاډمنوي چې په افغانستان کې د ښځو او نجونو وضعیت د کلونو لپاره د جدي نړیوالې پاملرنې موضوع پاتې کیږي.

۲ - د ICJ پریکړې کولی شي لارښوونه وکړي چې نور هیوادونه له افغانستان سره څنګه تعامل ولري. د مثال په توګه، دا حکمونه ممکن د سوداګریزو اړیکو ښه کولو یا په رسمي ډول د طالبانو حکومت د رسمیت پیژندلو لپاره د شرایطو په توګه وکارول شي. دا ممکن په ځانګړې توګه د هغو هیوادونو اړوند وي چې د محکمې په بریالیتوب کې یې پانګونه کړې ده او غواړي د محکمې حکمونه وڅاري چې د پام وړ پایلې ولري. د ICJ حکم

ممکن طالبانو ته نږدې هیوادونه هم رهبري وکړي چې د خپلو اړیکو بیا ارزونه وکړي، هغه قانوني خطرونه په پام کې ونیسي چې دوی ورسره مخ کیدای شي که چېرې د نړیوال قانون څخه د سرغړونو په توګه وګڼل شي.

۳ - دا احتمال چې د ICJ پروسې ممکن د طالبانو د مشروعیت د ترلاسه کولو پر فرصت اغیزه وکړي کولی شي د ښځو او نجونو پر وړاندې د نویو ظالمو قوانینو مخه ونیسي.

۴ - د ICJ د حکم د نه پرځای کولو له امله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د مجازاتو اړوند اندېښنې ممکن طالبان وهڅوي چې ظالم قوانین لغوه کړي یا نوي قوانین وځنډوي.


۵ - د تبعیضي اعلامیو ورکوونکو طالب چارواکو ښکاره کول کولی شي پر دې اشخاصو د خلکو څار او قانوني فشار پیاوړی کړي. دا ستراتیژي، د ICJ په نورو اقداماتو کې کارول کیږي، نه یوازې په جرمي څېړنو کې مرسته کوي بلکې ممکن چارواکي هم اړباسي چې د ځان ساتنې د اقداماتو په توګه د میرمنو پر وړاندې زیان رسونکي اقدامات محدود یا ودروي.

۶ - د ICJ یوه پریکړه کولی شي چې په نورو هیوادونو کې د افغانانو پناه غوښتنه او بشردوستانه مرسته اسانه کړي. د ICJ حکم په رسمي ډول د سرغړونو په رسمیت پیژندلو سره به د ژغورنې لپاره د دې اشخاصو اړتیا ثابته کړي.

۷ - د ICJ په اقداماتو کې د ښځو او نجونو پر وړاندې د سرغړونو ثبتول په تاریخي ریکارډ کې مرسته کوي، کوم چې په راتلونکي کې د حساب ورکولو په هڅو کې مرسته کوي، د بیلګې په توګه، د ICC یا ملي محکمو له خوا د طالبانو د چارواکو تعقیب.

۸ - د ICJ د پروسو اسناد او موندنې یو دایمي ریکارډ رامنځته کوي، د هغه څه حقیقت وړاندې کوي چې افغان میرمنو او نجونو د طالبانو تر واکمنۍ لاندې زغملي دي، او د دوی د تجربو رسمي پیژندنه منعکسوي.

۹ - دا قضیه یو فرصت وړاندې کوي چې د بشري حقونو داخلي سازمانونو او رسنیو لخوا رامنځته شوي حیاتي اسناد وکاروي او د پروسې مخې ته لومړی لاس شواهد راوړي.




## ۱۷ - د عدالت بین المللي محکمه (ICJ) کې د قضيې خطرات څه دي؟

### په داسې حال کې چې ځينې خطرونه شته، خو د ستراتيژيک پلان له لارې يې کچه کميداى شي

که طالبان د ICJ په اقداماتو کې برخه واخلي، او دغه دريځ يا پليټفارم د پروپاګند او د مشروعيت د ادعا لپاره وکاروي - نشي برياليي کېداى. لکه څنګه چې پورته تشريح شوه، د ICJ اقدامات د بالفعل حکومت لپاره مشروعيت يا رسميت پېژندنه نه وړاندې کوي (۷ او ۸ پوښتنې وګورئ). د يوې قضيې ماهيت چې د قانون حاکميت او د ښځو او نجونو پر وړاندې د طالبانو منظمې سرغړونې په ګوته کوي، په طبيعي ډول هر هغه مشروعيت کموي چې دوی يې غواړي.

دا هم مهمه ده چې دا ومنو چې د ICJ په قضيه کې د افغانانو ګډون کولی شي اشخاصو او د هغوی کورنيو ته امنيتي خطرونه يا رواني ستونزه رامنځته کړي. د دې ډول خطرونو د کمولو لپاره، دا مهمه ده چې هر ډول ګډون - له شواهدو راټولولو څخه تر شاهدي ويلو پورې- په بشپړ ډول داوطلبانه او په بشپړ رضايت سره وي. د ICJ مخکينۍ قضيې چې د بشري حقونو سرغړونو قربانيان پکې شامل وي، لکه د ميانمار پر ضد د ګامبيا او د سوريې او عربي جمهوريت پر وړاندې د کاناډا او هالنډ قضيه، ممکن د ستراتيژيو پراختيا کې مرسته وکړي، چې ګډون اسانه او په عين حال کې امنيتي خطرونه هم کم کړي.




## ۱۸ - آیا طالبان ښځو سره د تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون CEDAW څخه افغانستان ویستلی شي؟

**طالبان د هیواد د نړیوالو مکلفیتونو د بدلولو لپاره اړینه نړیواله رسمیت پیژندنه نلري او CEDAW هم له دې کنوانسیون څخه د وتلو روښانه شرایط نلري.**

دا چې ملګري ملتونه طالبان د افغانستان د مشروع حکومت په توګه په رسمیت نه پیژني، دوی د CEDAW د غړي په توګه د دې کنوانسیون او د افغانستان د نړیوالو ژمنو د بدلولو قانوني واک نه لري. حتی که په رسمیت و پیژندل شي هم، طالبان به له دې کنوانسیون څخه د وتلو په برخه کې د پام وړ قانوني خنډونو سره مخ شي، ځکه چې CEDAW په صراحت سره په دې اړوند څه نه دي وړاندې کړي. د تړونونو د قانون په اړه د ویانا کنوانسیون (VCLT)- چې د نړیوالو تړونونو تفسیر ته لارښوونه کوي - له یو تړون څخه وتل کله چې تړون په دې اړوند خاموش وي یوازې هغه وخت اجازه لري چې: (۱) دا ثابته شي چې تړون د وتلو اجازه په نظر کې نیولې؛ یا (۲) د تړون ماهیت د وتلو پر حق دلالت کوي.

د CEDAW په قضیه کې هیڅ حالت نه دی رامنځته شوی. له تړون څخه د وتلو د فقرې لرې کول قصدي ښکاري. د CEDAW پخوانیو مسودو کې له دې کنوانسیون څخه د وتلو مقررات شامل ؤ، په هرصورت، ډیری هیوادونو اعتراض وکړ، او استدلال یې وکړ چې دا ډول مقررات دغه کنوانسیون کمزوری کوي. پایله دا چې، د CEDAW وروستۍ نسخه په ۱۹۷۹ کې تصویب شوې، چې په قصدي ډول یې د وتلو فقره ترې لرې کړې ده. د دې فقرې لرې کول په ځانګړې توګه د پام وړ دي، کله چې د ښځو د حقونو له پخوانیو تړونونو سره پرتله شي، چې دا کنوانسیون یې په مجموعې وراضافه شوی، لکه د ښځو د سیاسي حقونو کنوانسیون (۱۹۵۲)، د

واده کړو میرمنو د تابعیت کنوانسیون (۱۹۵۷)، اود واده کولو لپاره د رضایت، د واده کم تر کمه عمر او د ودونو راجسټریشن لپاره کنوانسیون (۱۹۶۲) - چې ټولو یې په صریح ډول له کنوانسیون څخه د وتلو واضحې فقرې درلودې. په CEDAW کې د دې ډول مادې نشتوالی د دې تړون د تلپاتې والي د رامنځته کولو لپاره د مسودې د جوړونکو لخوا د شعوري پریکړې نښه ده.

برسیره پر دې، پر نړیوالو ارزښتونو د CEDAW تمرکز، لکه برابري، عدم تبعیض، او د ښځو د بشري حقونو د ساتنې پراختیا، پر دې دلالت نه کوي چې د کنوانسیون غړي دې د وتلو حق ولري. د دې مسودې شرایط او زمینه دغه تفسیر نور هم پیاوړی کوي. ۱۹۷۰ کلونه د ښځو د حقونو اړوند په نړیواله کچه د چلند د بدلون موده وه. ملګري ملتونه دا دوره د «نړیوال ښځینه غورځنګ» د زیاتوالي په توګه په ګوته کوي، چې د ملګرو ملتونو د غړو هیوادونو د نوښتونو لکه په لومړي ځل «د ښځو بین المللي کال»،«د ښځو لسیزه» او «د ښځو په اړه نړیوال کنفرانس» یادولی شو، دا یو ډله ییز حرکت ښيي چې د ښځو د حقونو په نه بېلېدو تاکید کوي.

له کنوانسیون څخه د طالبانو د وتلو وړتیا د VCLT د ۵۴ مادې له مخې لا ډېره محدوده ده، کوم چې دا په ګوته کوي چې کله یو تړون د وتلو اړوند غلی وي او د وتلو لپاره یې دوه شرایط نه وي پوره کړي، یو هیواد کولی شي یوازې د ټولو غړو هیوادونو په رضایت سره له تړون څخه ووځي. د افغانستان اړوند به وتل د ټولو ۱۸۸نورو غړو هیوادونو موافقې ته اړتیا ولري - هغه چاره چې په عملي توګه ناممکنه ده.

حتی په خورا ممکنه پیښه کې، که چېرې افغانستان ووتلی شي، VCLT به بیا هم د پلي کیدو لپاره د ۱۲ میاشتو خبرتیایي دورې ته اړتیا ولري، چې وتل اغېز پیدا کړي. د دې وخت په جریان کې به افغانستان د CEDAW پابند پاتې شي، او د وتلو د اغېز پیدا کېدو تر نیټې مخکې سرغړونې لاهم ICJ ته راوړل کیدای شي.

له CEDAW څخه د بشپړ وتلو ور هاخوا، له ۲۹ مادې څخه د افغانستان د وتلو وړتیا هم محدوده ده - چې دا ماده هیوادونو ته اجازه ورکوي څو ICJ ته د شخړې قضیه راوړي. نړیوال قانون عموما یوازې د تصویب په وخت کې د تحفظاتو اجازه ورکوي، نه وروسته (VCLT، ماده ۱۹). دا مهمه ده چې افغانستان پرته له کومو تحفظاتو CEDAW کنوانسیون تصویب کړی دی. سربیره پر دې، د تړونونو په اړه تحفظاتو درلودلو لپاره د نړیوال قانون د کمیسیون ۲.۳ لارښود دا په ګوته کوي چې نوي تحفظات منعه دي، پرته له دې چې تړون په واضح ډول ورته اجازه ورکړي (کوم چې CEDAW ورته اجازه نه ورکوي) یا نور ټول غړي رضایت ولري. که چیرې حتی یو لوری ورسره ستونزه ولري، تحفظات باطل دي، او CEDAW کنوانسیون به پر افغانستان باندې په بشپړ ډول الزامي پاتې شي.



## ۱۹ - د ICJ قضیه څنګه د احتساب او عدالت پر نورو میکانیزمونو اغیزه کولی شي؟

**د ICJ قضیه به د حساب ورکولو او عدالت نور میکانیزمونه بشپړ کړي.**

د ICJ قضیه کولی شي په ستراتیژیک ډول د حساب ورکولو نورې هڅې بشپړې کړي. د حساب ورکونې هر میکانیزم افغان میرمنو او نجونو ته د انصاف په ورکولو کې محدودیتونه لري، خو بیا هم هر یو یې ځانګړې ارزښت وړاندې کوي.

تر دې دمه، په افغانستان کې د احتساب په اړه ډېری بحثونو په جرمي حساب ورکولو متمرکز دي- په ځانګړې توګه د نړیوال صلاحیت د مفهوم په کارولو سره په بیلابیلو هیوادونو کې د ICC پر وړاندې او د کورنیو قضیو له لارې. د جرمي حساب ورکولو ګواښ (سره له دې چې د طالبانو ځینې غړي ممکن زندان ته لاړ شي) پیاوړی دی. په ورته وخت کې، جرمي محاکمې پخپله محدودیتونه لري. د بیلګې په توګه، یوازې ځینې ډول جرمونه تعقیبیدلی شي او یوازې د یو څو اشخاصو اړوند اقدام کیدلی شي.

په هرصورت، ICJ دا فرصت وړاندې کوي چې د نړیوال قانون له مخې د ډېرو دولتي سرغړونو مسؤلیت په ګوته کړي. دا په پراخه کچه د طالبانو د پراخو سرغړونو له امله د مسؤل ساتلو لپاره لاره پرانیزي چې له دې پرته کیدلی شي دا قضیې پټې پاتې شي. همدارنګه، ICJ محکمې ته اعتراض کولی شي د جنایي تحقیقاتو او تعقیبونو په پرتله ګړندی پایلې ولري، په ځانګړې توګه د لنډمهالو اقداماتو له لارې.

مهمه دا ده، چې د حساب ورکولو او عدالت رامنځته کولو میکانیزمونه کولی شي یو بل بشپړ او پیاوړي کړي. د مثال په توګه، د ICC د جرمي تحقیقاتو لپاره راټول شوي شواهد ممکن د ICJ په قضیې کې مرسته وکړي او برعکس. د حساب ورکولو د نورو میکانیزمونو اړوند هم ورته کار کیدی شي، لکه د افغانستان په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکوونکي فعالیت.

دا همغږي کیدای شي نورو هڅو ته وغځیږي، په ځانګړي ډول الف) د جنسیتي اپارتاید د قانوني کوډ کولو د کمپاین په ګډون، چې هدف یې هغه غیر انساني اعمال دي چې د یو جنسیت له خوا په زوره او سیستماتیک ډول سره ظلم تحمیلیږي؛ ب) د دې ملاتړ چې د جنسیت پر بنسټ د تبعیض له امله افغان ښځو او نجونو ته پناه ورکول کیږي؛ یا ج) هغه ستراتیژۍ د طالبانو د رسمیت پیژندنې هڅه شنډه کړي. په ګډه، دا هڅې کولی شي په متقابل ډول ځواکمنوونکی قانوني چوکاټ رامنځته کړي چې له نړیوال قانون څخه د طالبانو د سرغړونو مجموعي حساب وکړي، او هغه قوانین چې د افغان ښځو او نجونو اړوند نقض شوي دي.



## ۲۰ - د عدالت د نړیوالې محکمې ICJ قضیه څنګه کولی شي د «جنسیتي اپارتاید” د سیستماتیک کوډ کولو یا قانون جوړولو هڅې پیاوړې کړي؟

**د ICJ قضیه کولی شي د جنسیتي اپارتاید واقعي مخینه رامنځته کړي، او د قضیې د رسمي تایید یا کوډ کولو اړتیا په ګوته کوي**


د تبعیض منعه کول د نړیوال قانون بنسټ دی. په هرصورت، د اپارتاید برعکس- چې د نړیوال جرمي قانون له مخې د یو جرم په توګه پیژندل شوی او د «افرادو د کوم بل توکمیز ګروپ اړوند د خلکو د یوې توکمیزې ډلې لخوا د تسلط رامنځته کولو او ساتلو لپاره د غیر انساني عملونو په توګه تعریف شوی» - تراوسه د «جنسیتي اپارتاید» مفهوم نه دی تایید شوی. د اپارتاید لپاره د بنسټ په توګه د «جنس» شاملول د جنسیتي اپارتاید د موجوده قانوني اپارتاید پر بنسټ رامنځته کیږي، خو دا چې جنسیتي اپارتاید لا هم په رسمي توګه د نړیوال قانون له مخې د جرم په توګه نه دی پیژندل شوی، نړیوالې او کورنۍ جرمي محکمې نشي کولی د دې جرم محاکمه وکړي. پر دې اساس، ډیری افغان میرمنې او مدافعین غوښتنه کوي چې جنسیتي اپارتاید د بشریت پر وړاندې د یو جرم په توګه په رسمیت وپیژندل شي، او استدلال کوي چې اوسني قوانین چې د جنسیتي ځورونې یادونه کوي، د طالبانو له خوا د ښځو سیستماتیک محکومیت او د دوی ځانګړې اراده نشي رانغاړلی. په داسې حال کې چې ICJ امکان نلري چې د جنسیتي اپارتاید د نظریې اړوند واک ولري، کوم چې د CEDAW لاندې تایید شوی مفهوم نه دی، د افغانستان پر وړاندې د ICJ قضیه کولی شي په هرصورت د جنسیتي اپارتاید د تنظیم کولو کمپاین ته وده ورکولو کې مهم او بشپړ رول ولوبوي. د بیلګې په توګه، د ICJ قضیه کولی شي د طالبانو په سیستماتیک ډول د جنسیت پر بنسټ د ظلم او تسلط مستند ریکارډ یا مخینه رامنځته کړي، دا د حقونو د څو اړخیزو سرغړونو په شمول، په عمل کې د جنسیتي اپارتاید حقیقت مستندوي. دغه مخینه

رامنځته کول به په افغانستان کې د جنسیت پر بنسټ د تبعیض د سختوالي او پراختیا په اړه د نړۍ د یوې لوړې محکمې لخوا پخې او رسمي موندنې چمتو کړي. دا ډول حکم کولی شي د دې سرغړونو د سیستماتیک ماهیت په پیژندلو سره یو قانوني لومړیتوب رامنځته کړي، او د نړیوال جرم په توګه د جنسیتي اپارتاید د رسمي تدوین د وکالت لپاره قوي بنسټ وړاندې کوي.

سربیره پر دې، د ICJ قضیې د پام وړ نړیواله پاملرنه راجلبوي. د افغانستان پر وړاندې د ICJ قضیه به په نړیواله کچه د افغان ښځو او نجونو ناوړه وضعیت باندې متمرکز کړي، او په دې توګه به د نړیوال قانون له مخې د جنسیتي اپارتاید پیژندلو او تصدیق کولو لپاره د مدافعې هڅې پیاوړې کړي.

د ICJ قضیه کولی شي په موجوده قانوني چوکاټونو کې خالي ځایونه روښانه کړي، دا د جنسیتي اپارتاید د تصدیق او کوډ کولو اړتیا په ګوته کوي، ترڅو جامع قانوني محافظت او حساب ورکوونه ډاډمنه کړي، په ځانګړې توګه د نړیوال جنایي قانون په ساحه کې پر دې باندې پخپله د CEDAW د کمیټې لخوا تاکید شوی، چې په دې وروستیو کې یې د دې د کوډ کولو یا قانون جوړونې غوښتنه کړې «چې د جنسیت پر بنسټ جرمونو لپاره بشپړه حساب ورکونه رامنځته کړي.»

د جبري امیندوارۍ د جرم پېژندل په دې برخه کې یوه ګټوره بیلګه وړاندې کوي، چې څنګه د بشري حقونو قانون کولی شي د جدي سرغړونو د جرمونو د جرم پېژندلو ملاتړ وکړي. په پیل کې د بشري حقونو له نړیوال قانون سره سم د جدي سرغړونې په توګه پیژندل شوې جبري امیندواري، په ښکاره توګه د نړیوال جرم په توګه نه وه لیست شوې. خو په بوسنیا او روانډا کې د وحشتونو بین المللي محاکمو دې مسالې ته ډېر پام ور واړاوه، مخکښو هیوادونو، او مدني ټولنې د بشریت ضد د جرم او جنګي جرم په توګه د دې جرم د پېژندنې لپاره وکالت وکړ او په بریالیتوب سره یې د روم په قانون کې راوستله. په ورته ډول، د ICJ قضیه کولی شي د یو جرم په توګه د جنسیتي اپارتاید د پیژندلو لپاره د کتلست په توګه کار وکړي، او په افغانستان او په ټوله نړۍ کې د ښځو او نجونو لپاره د لا هر اړخیز محافظت لپاره لاره هواره کړي.




## ۲۱ - ولې ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي بین المللي کنوانسیون CEDAW د کمېټې پر ځای ICJ محکمې ته د یاد کمیسیون لاندې یوه قضیه راوړئ؟

### د افغانستان پر ضد د CEDAW کمیټې ته انفرادي شکایتونه امکان نه لري

د ښځو پر وړاندې د تبعیض د له منځه وړلو بین المللي کنوانسیون کمېټه د دې کمېسیون د پلي کیدو په څارنه کې مهم رول لوبوي. دا کمېټه د ملي راپورونو  بیاکتنه کوي او وړاندیزونه ورکوي، چې موخه یې د قوانینو د اطاعت ښه کول دي.

د CEDAW کنوانسیون کمیټه کولی شي د کنوانسیون د سرغړونو په اړه انفرادي شکایتونه (د «ارتباطاتو» یا «عریضې» په نوم یادیږي) هم په پام کې ونیسي. په هرصورت، کمیټه یوازې هغه وخت دا کار کولی شي که چیرې هیواد د CEDAW کمېټې ته د دې کمیسیون د اختیاري پروتوکول په تصویب کولو سره غوښتنه وکړي او د کمیټې واک یې منلی وي، چې دا اختیاري پروتوکول یو جلا تړون دی. افغانستان دا پروتوکول نه دی تصویب کړی، په دې معنی چې افراد نشي کولی د افغانستان پر وړاندې کمیټې ته مخامخ شکایتونه راوړي.





## ۲۲ - ایا  د بشر حقونو د نورو تړونونو له مخې چې افغانستان تر پښو لاندې کړي دي، ICJ محکمې ته قضیه راوړل ممکن دي؟

**یوازې هغه قضیې ICJ ته راوړل کیدای شي چې د هغو تړونونو لاندې وي چې د دې محکمې واک پیژني.**

هر تړون ICJ محکمې ته د شخړو د دوسیو اخیستلو اجازه نه ورکوي. د نهو اصلي نړیوالو بشري حقونو تړونونو څخه، یوازې درې هغو یې ICJ ته واک ورکړی: ښځو سره د تاوتریخوالي د مخنیوي بین المللي کنوانسیون CEDAW، د نژادي تبعیض د ټولو ډولونو د له منځه وړلو کنوانسیون (CERD)، او د شکنجې ضد کنوانسیون (CAT).

د دغو دریو تړونونو تر منځ، افغانستان یوازې د CEDAW او CAT لاندې د ICJ قضاوت ته اجازه ورکړې ده. دا په دې معنا ده چې، پر CEDAW سربیره، دا امکان شته چې د شکنجې ضد کنوانسیون (CAT) لاندې هم د افغانستان پر ضد د ICJ قضیه راوړل شي، په دې شرط چې هغه مدعي هیواد هم د دې تړون لاندې د ICJ قضاوت په رسمیت پیژندلی وي. د CEDAW په څیر، CAT هم مدعي هیواد اړباسي چې ICJ ته له رسیدو مخکې یو لړ ګامونه واخلي (۹مه پوښتنه وګورئ).



## ۲۳ - ولې د نورو لارو پر ځای د ICJ په قضیه کې سرچینې وکارول شي؟

**په نړیواله کچه د عدالت او حساب ورکونې تعقیب پیاوړی کول.**

په ICJ کې د قضیې تعقیب یو ستراتیژیک انتخاب دی چې هدف یې په نړیواله کچه د عدالت او احتساب پیاوړي کول دي. دا چلند د نورو هڅو د بدلولو یا پېټولو پرځای د هرې موجوده قانوني لارې د کارولو د اصولو پر بنسټ دی چې سرغړونې په ګوته او جبران یې کړي.

د ICJ محکمه په مختلفو شرایطو کې کارول شوې، چیرې چې د احتساب ډیری میکانیزمونه مخکې له مخې ځای پر ځای شوي ؤ، د هغه پرځای چې د منابعو لپاره سیالي وکړي پرځای یې د بشپړوونکې یا تکمیلي لارې په توګه خپل رول څرګندوي. د بیلګې په توګه، د میانمار لپاره د ملګرو ملتونو لخوا رامنځته شوي خپلواک تحقیقاتي میکانیزم په شتون سربېره، ګامبیا د نسل وژنې کنوانسیون لاندې د ICJ په وړاندې د میانمار پروړاندې یوه قضیه پیل کړه. دا عمل د روانو هڅو څخه څه نه کموي، لکه په میانمار کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د ملګرو ملتونو د ځانګړي راپور ورکوونکي کار یا په ICC کې څېړنه. ورته څو اړخیزې طریقې د سوریې، فلسطین او اوکراین د وضعیتونو د حل لپاره تر سره شوې دي، چیرې چې د میکانیزمونو ترکیب هممهاله کار کوي.

د ICJ لپاره انتخاب کول د قضایي لارې په وړاندیزولو سره د حساب ورکونې د برخې اقدامات پراخه کوي چې کولی شي له شته شواهدو او اسنادو څخه ګټه پورته کړي. دا په دې معنا ده چې په ICJ کې د قضیې پیل کول د شواهدو راټولولو په برخه کې له صفر څخه پیل کولو ته اړتیا نلري. سربېره پردې، د ICJ قضیو کې کارول شوی

د مدارکو معيار د جرمي قانون له معيار سره توپير لري، لکه په ICC کې اقدامات. دا توپير د ICJ په قضيه کې د اسنادو د پراخې لړۍ وړاندې کولو ته اجازه ورکوي، دا ډاډمنوي چې د قضيې لخوا رامنځته شوی تاريخي ريکارډ د افغان غړونو پراخه لړۍ رانغاړي. په لنډه توګه، د روانو نوښتونو سره د سيالي کولو پرځای د ICJ دغې بشپړوونکې لارې ته د قضيې راوړل خپله يوه هڅه ده.




## ۲۴ - ایا، یا باید، افغان مدني ټولنه د افغانستان پر وړاندې د ICJ په قضیه کې رول ولوبوي؟

### د افغان مدني ټولنې ګډون لازمي نه دی، خو باید هرکلی یې وشي

په ICJ کې د قضیې د پیل او پرمخ وړلو مسؤلیت د هیوادونو دی، نه د انفرادي افغانانو یا افغان مدني ټولنې. دا په دې معنا ده چې هیوادونه د محاکمې بار وړي. که څه هم د افغانانو ګډون په قانوني توګه اړین نه دی، خو د قضیې د اغیزو او تړاو زیاتولو لپاره اړینه ده، دا د خورا ارزښتناکو نظریاتو او لیدلورو وړاندیزول دي چې کیدای شي پرته له دې له پامه وغورځول شي. دا د افغانستان پر وړاندې د قضیې پیلوونکي هر هغه هیواد لپاره ګټوره چاره ده چې د افغانانو د ګډون په لټه اوسي او ګډون اسانه کړي، نه یوازې د قضیې د بشپړتیا ډاډمنولو لپاره، بلکې دا هم ډاډمن کړي چې د افغان میرمنو او نجونو له ژوندیو تجربو سره تړلي دي- هغه اشخاص چې د قضیې په پای کې له عدالت څخه برخمنیږي.

د افغان مدني ټولنې ګډون د قضیې له رامنځته کولو څخه د هرې پړیکړې تر پلي کولو پورې په څو لارو ترسره کیدی شي. د بیلګې په توګه، افغان مدني ټولنه کولی شي د شواهدو راټولولو، اسنادو چمتو کولو، او په ستراتیژیکو اړیکو کار کولو کې مرسته وکړي (په ځانګړې توګه د قضیې اهمیت او د دې پرمختګونه افغان ټولنې او نورو هیوادونو ته وړاندې کړي). افغان حقوقي متخصصین کولی شي د قانوني ټیم برخه وي چې د هیواد (یا هیوادونو) استازیتوب کوي، د پریکړې کولو پروسې کې مرسته وکړي، د محاکمې ستراتیژي جوړه کړي، او قانوني استدلال رامنځته کړي او د التیام لارې ولټوي (افغان حقوقي متخصصین کولی شي د هغه قانوني ټیم برخه وي چې د هیواد (یا هیوادونو) استازیتوب کوي چې قضیه راوړي، په پریکړه کولو کې مرسته وکړي، د

قضیې ستراتیژي جوړه کړي، او د قانوني دلایل وړاندی کړی) . دا تخصص به دا ډاډمن کړي چې قضیه د افغانستان د ځمکنیو واقعیتونو استازولي کوي او انعکاس ورکوي. کله چې د محاکمې اوریدنه ترسره کیږي یا په قضیه کې پریکړې کیږي، مدني ټولنه کولی شي په قوي وکالت کې هم مهم رول ولوبوي ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې خلکو ته خبر رسېدلی دی او ټولې ادارې دا غوښتنه کوي چې طالبان د ICJ له اوامرو سره مطابقت ولري.

د افغانانو او افغان مدني ټولنې ګډون هم د دې ډاډ ترلاسه کولو کې مرسته کولی شي چې قضیه د افغان ټولنې اړتیاو او هیلو سره خورا پیاوړی تړاو لري. په داسې حال کې چې په ټولو قضیو اړخونو کې د ګډون بلنه باید افغانانو او افغان مدني ټولنې ته هم وي، دا بلنې باید د لازمي ګډون په معنا نه وي، او نه پر افغان ټولنه اضافي بارونه یا امنیتي ګواښونه وتپي.



## ۲۵ - ایا افغان وګړي محکمې ته شواهد وړاندې کولی شي؟

### مستقیم نه، خو دوی کولی شي هغو هیوادونو سره همکاري وکړي چې د شخړې اړخونه دي

ICJ په خپلو اقداماتو کې د مستقیم قرباني/ژغورونکي د ګډون لپاره رسمي کړنلاره نلري؛ یوازې هیوادونه او ممکن د قضیو اړخونه ورسره اړیکه ولري، په دې معنا چې افراد نشي کولی په خپلواکه توګه مداخله وکړي یا محکمې ته شواهد وړاندې کړي.

په هرصورت، محکمه یا د قضیې لوری هیوادونه کولی شي د افغان قربانیانو، د هغوی کورنیو، او شاهدانو څخه غوښتنه وکړي چې د افغانستان پر وړاندې د ادعاګانو په ملاتړ شواهد/شاهد چمتو کړي. په ځانګړې توګه، شاهدان کولی شي ویډیویي یا د اعلام نور ډولونه چمتو کړي چې ښځو او نجونو ته د تلپاتې زیان اړین شواهد رامنځته کوي، او د وضعیت بیړنیوالی او شدت هم څرګندوي، چې محکمه ورته د لنډمهالو اقداماتو صادرولو لپاره قناعت ته اړتیا لري. د بیلګې په توګه، د شکنجې پر ضد کنوانسیون څخه د سرغړونو له امله د کاناډا او هالنډ لخوا د سوریې پر ضد قضیه کې، مدعي هیوادونه په پراخه کچه د سوریې د شکنجې قربانیانو لخوا چمتو شویو شواهدو باندې تکیه کړې. قربانیان/ژوندي پاتې شوي هم کولی شي د ICJ په اوریدنه کې برخه واخلي. د بیلګې په توګه، د میانمار پر وړاندې قضیه چې د ګامبیا لخوا د نسل وژنې کنوانسیون څخه د سرغړونو لپاره راوړل شوې، د روهینګیا ځینو قربانیانو په شخصی ډول د اوریدلو په موقتي اقداماتو کې برخه اخیستې وه.



## ۲۶ - دا څه مانا لري چې استرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ د افغانستان پر وړاندې د CEDAW له مخې د شخړې پروسه پیل کړې؟

**دې هیوادونو د CEDAW لاندې طالبانو ته د خپلې دعوې خبر ورکړی، مګر قضیه لا تر اوسه نه ده سپارل شوې.**

د ۲۰۲۴ کال د سپتمبر پر ۲۵مه، استرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ اعلان وکړ چې دوی د CEDAW کنوانسیون تر ۲۹مې مادې لاندې د شخړې د حل کولو پروسه پیل کړې، دا په دې معنا ده چې که چیرې خبرې اترې او منځګړیتوب له افغانستان سره د دوی د شخړې په هواري کې پاتې راشي، دوی کولی شي قضیه ICJ ته یوسي (۹مه پوښتنه وګورئ).

د خپریدو پر مهال، دې هیوادونو طالبانو ته یوه اطلاعیه لیږلې ده، چې دوی ته په افغانستان کې د ښځو او نجونو د حقونو په اړه د CEDAW د پلي کولو په برخه کې د شخړې اړوند خبر ورکوي او اندېښنه څرګندوي. دا پروسه د CEDAW لاندې راتلونکي مرحلې ته ورځي، چیرې چې دا هیوادونه باید د «مذاکراتو» له لارې د شخړې د حل کولو هڅه وکړي (۱۰مه پوښتنه وګورئ). اوس مهال، دوی د خبرو اترو په داسې مرحله کې دي، چې دوی ته اجازه نه ورکوي قضیه ICJ ته راوړي، تر هغې چې شخړه په خبرو اترو هواره نشي. له همدې امله، د دې هیوادونو لپاره دوامدار ملاتړ چې د قضیې پرمخ وړلو لپاره خپلې ژمنې پوره کړي مهم دی، په ځانګړې توګه که چیرې دا د ټولنې له لومړیتوبونو سره سمون ولري.



## ۲۷ - ایا نور هیوادونه کولی شي د افغانستان په وړاندې د CEDAW په شخړه کې استرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ سره یوځای شي؟

**نور هیوادونه کولی شي د CEDAW لاندې د شخړې خپله پروسه پیل کړي، له دې هیوادونو سره همکاري وکړي، یا په قضیه کې مداخله وکړي.**

هر هغه هیواد چې د CEDAW غړی دی او د ۲۹مې مادې لاندې یې د ICJ  قانوني واک منلی وي کولی شي د افغانستان پر وړاندې د شخړې پروسه پیل کړي. که څه هم آسټرالیا، کاناډا، جرمني او هالنډ په عامه توګه خپله شخړه اعلان کړې، خو دا د نورو هیوادونو مخه نه نیسي چې د افغانستان پر وړاندې خپله پروسه پیل کړي. دا ډول هیوادونه اړتیا لري ورته ګامونه تعقیب کړي: د شخړې دعوه اقامه کړي او د خبرو اترو او منځګړیتوب هڅه وکړي (۹ پوښتنه وګورئ). په داسې کولو سره، هیوادونه کولی شي د څلورو هیوادونو لومړنۍ ډلې سره همغږي وکړي، یا دوی کولی شي په خپلواکه یا د نورو هیوادونو سره په ملګرتیا کې پرمخ ولاړ شي. که چیرې ډیرې قضیې راپورته شي، ICJ ممکن پریکړه وکړي چې قضیې په جلا توګه یا یوځای اداره کړي، دا په دې پورې اړه لري چې آیا دوی یوځای کیدای شي او تر کومه حده- د بیلګې په توګه، آیا دوی د CEDAW پر هماغو مادو استناد کړی، ورته ادعاوې لري، یا ورته طرزالعملونه یې تعقیب کړي دي که نه.

په بدیله توګه، یو دولت کولی شي د ICJ قانون د ۶۲ او ۶۳ مادو لاندې په قضیه کې مداخله وکړي، چې دا مادې د مداخلې لپاره اجازه ورکوي، کله چې د قضیې پایله ممکن د هیواد پر قانوني ګټو اغیزه وکړي، یا کله

چې د تړون د تفسیر مسله وي. د بیلګې په توګه، د نسل وژنې تر کنوانسیون لاندې د اوکراین لخوا د روسیې پر وړاندې ثبت شوې قضیه او د سویلي افریقا له خوا د اسراییلو پر وړاندې قضیه، چې ګڼ شمېر هیوادونو پکې خپلې مداخلې سپارلې دي.



## ۲۸ - ایا هغه هیوادونه چې د CEDAW غړي نه دي یا د ICJ قضاوت یې نه دی منلی د قضیې ملاتړ کولی شي؟

### ټول هیوادونه کولی شي د غیر رسمي وسیلو له لارې د قضیې ملاتړ وکړي

ټول هیوادونه، د هغو هیوادونو په شمول چې د CEDAW غړي نه دي یا یې د ICJ قضایي واک نه دی منلی، کولی شي د غیر رسمي وسیلو له لارې د CEDAW د قضیې ملاتړ وکړي. دا ډول ملاتړ کولی شي په قضیه کې مهم سیاسي وزن زیات کړي او بیلابیلې بڼې غوره کړي، لکه د قضیې او د هغې د اهدافو د تایید لپاره عامې اعلامیې ورکول، د ادعاوو اړوند شواهد یا معلومات چمتو کول، د قانوني مشورې یا تخنیکي مرستې وړاندیزول، یا د قضیې اړوند د مرستې نورې بڼې. د بیلګې په توګه، کله چې آسټرالیا، کاناډا، جرمني، او هالنډ د CEDAW له مخې خپله شخړه اعلان کړه، ۲۲ هیوادونو، چې ځینو یې د ICJ واک نه دی منلی، د دې هڅو په ملاتړ ګډه اعلامیه خپره کړه. په دې ګروپ کې د نړۍ له سویل څخه هیوادونه شامل ؤ، لکه چیلي او مالاوي، او همدارنګه هغه هیوادونه چې د پام وړ یا اکثریت مسلمان نفوس لري، لکه البانیا او مراکش. سربیره پردې، دې هیوادونو اشاره وکړه چې دوی ممکن «نور احتمالي اختیارونه په پام کې ونیسي، چې په انفرادي ډول یا په ټولیز ډول د CEDAW او نورو اړوندو د بشري حقونو تر چوکاټونو لاندې تعقیب شي.»

OPEN SOCIETY
JUSTICE INITIATIVE

رواداری
RAWADARI

## ۲۹ - په وړاندېز شوې قضیه کې د پرانستې ټولنې Open Society او روادرای رول څه دی؟

**پرانستې ټولنه له ډېرو کلونو راهیسې د افغانستان اړوند کار کوي او کولی شي انتقادي ملاتړ چمتو کړي**

د پرانستې ټولنې بنسټ OSF د ډېرو کلونو لپاره په افغانستان کې کار کړی او تر ۲۰۲۱ پورې یې په کابل کې دفتر درلود. د ۲۰۲۱ کال له وروستیو راهیسې، د پرانستې ټولنې د عدالت نوښت OSJI - د پرانستې ټولنې بنسټ یو پروګرام دی چې د بشري حقونو د پرمختګ لپاره په ستراتیژیکو قضیو کې تخصص لري. په فعاله توګه د ICJ, CEDAW قضیې ته انکشاف او ملاتړ کول دي. دا کار د افغانستان د مدني ټولنې، د بشري حقونو د مدافعینو، حقوق پوهانو او د ښځو د حقونو د مدافعینو په همکارۍ ترسره شوی دی. دا هڅې د پرانستې ټولنې د مختلفو مهارتونو او سرچینو لخوا تقویه شوې دي. په داسې حال کې چې پرانستې ټولنه د ICJ په احتمالي قضیه کې رسمي رول نه لري، خو له ښکیلو هیوادونو سره همکاري کوي ترڅو د افغان مدافعینو، څېړونکو او مدني ټولنې سره د تشې په ډکولو کې مرسته وکړي، د معلوماتو او سرچینو راټولولو د هڅو ملاتړ کوي، او موخه یې د هغو ټولنو د لومړیتوبونو لوړول دي چې په دې نوښت کې رانغاړل کیږي.

راواداري د بشري حقونو یو افغان بنسټ دي چې په ۲۰۲۲ کال کې په جلاوطنۍ کې رامنځته شو. دغه بنسټ د افغانستان د بشري حقونو د کلتور د پیاوړتیا او د بشري حقونو د سرغړونو په ځانګړي توګه هغه سرغړوني

چې په ښځو او انجونو اغېزه کوي د عدالت او حساب‌ورکونې د پرمختګ لپاره کار کوي. د (ICJ) د هڅو په لړ کې، راواداري په افغانستان کې دننه او بهر د افغانستان د مدني او بشري حقونو له ټولنې سره سلا مشورې کړې دي، تر څو د ښځو د حقونو د سرغړونو په تړاو افغانستان د احتمالي قضيې حساب‌ورکوونکې شي. راواداري همدارنګه اړوند مواد سیمه ییزو ژبو ته ژباړلي او خپاره کړي دي، څو د ICJ احتمالي قضيې په اړه عامه پوهاوی زیات کړي. راواداري له افغان کارپوهانو او مدني ټولنې سره همکاري کوي، تر څو د اغېزمنو ټولنو لومړیتوبونه او لیدلوري په دې مهم او ښايي تاریخي بهیر کې چې د افغانستان د ښځو د عدالت لپاره روان دی، انعکاس ومومي.

